شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارګان

روژه فرض ده

لوي خدای جل جلاله فرمایی: «ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو!) په تاسی باندی روژه فرض شوی ده، لکه څنګه چی له تاسی نه په پخوا خلکو باندی فرض شوی وه. ددی دپاره چی تاسی تقوی او پرهیزګاری وکړی.»

(البقرة:۱۸۳)

روژه او قرآن شفاعت کوی

له عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی چی د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «روژه او قرآن د انسان شفاعت (سپارښتنه) کوی: روژه وایی: ای زما ربه! ما دی په ورځ کی له خوراکه او شهوتونو څخه منع کړی دی، نو دده په هکله زما سپارښتنه ومنه. او قرآن وایی: ما دي په شپه کی له خوبه راګرځولی دی، نو دده په هکله زما سپارښت ومنه. نو دواړو سپارښت ومنل شی.»

(دغه حدیث، بیهقی په شعب الایمان کی روایت کړی دی)

لومړی کال | اوومه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال د سلواغی (دلو) د میاشتی (۹) | د ۱۹۹٦ میلادی کال د جنوری (۲۹) | د ۱٤۱٦ق کال د رمضان المبارك (۹)

د اسلامی تحریك مرستیال ملامحمد ربانی آخند په هرات کی د نظامی قطعاتو د لیدنی په وخت کی طالبانو ته وویل:

ډیر پام کوی چی خپلی پاکی لیکی مو د هر ډول بدنامی او عیب څخه خوندی وساتی

په کومو ولایتونوکی چی اوس اسلامی نظام پلی شوی او دهر ډول فساد اوتیری مخه نیول شوی ده، داټول د تاسو د زیاتو قربانیو نتیجه ده

هرات:

دشریعت اونیزی خبریال خبر راکوی چی تیره روځ د طالبانو د اسلامی تحریك مرستیال ملامحمدربانی اخند د هرات له پنځه ورځنی لیدنی کتنی څخه وروسته بیرته قندهار ته راستون شو. د تحریك محترم مرستیال، د هرات په ولایت کی په مختلفو غونډوکی د علماوو کرامو، قومی مشرانو سره د فکرونو تبادله وکړه او هغوی محترم معاون صاحب ته د اسلامی نظام د ساتنی په اړوند د هر ډول همکاری او مرستی ژمنه وکړه.

محترم معاون صاحب، په هرات کی د [illegible] څخه لیدنه وکړه، او هلته یی [illegible] (٤مخ)

په آزاد کشمیر کی د هندی عسکرو له خوا (۲٦) تنه دلمانځه په حال کی په شهادت ورسول شول

باغ: په آزاد کشمیر کی د فاروق کهوټه د کلی په یوه مسجد باندی دهندوستان دفوځ له خوا دیوه راکټ دلګیدو په اساس (۲٦) تنه لمونځ کونکی د لمانځه په حال کی په شهادت باندی ورسیدل (انا لله و انا الیه راجعون) دغه کلی د آزاد کشمیر او مقبوضه کشمیر په پوله باندی د اوو لسګو متږو په فاصله دننه په آزاد کشمیر کی واقع دی.

د هندوستان د فوځ له خوا راکټ هغه وخت په مسجد باندی ولګیده چی خلك د جمعی په لمانځه باندی ولاړ وو. دولتی مامورینو سمدستی په کلی کی د مرستی کارپیل، او زخمیان یی روغتون ته انتقال کړل، چی په هغو کی د اوو تنو حالت ډیر خراب دی.

مولوی احسان الله «احسان» عضو شورای عالی تحریك اسلامی طالبان در مسجد جامع خرقه، شریف قندهار گفتند:

ما به نصرت خداوند متعال از هیچ قدرت کفری ترس و هراسی نداریم

هدف تحریك اسلامی طالبان تنها و تنها پیاده ساختن احکام خدا (ج) بر زمین خدا (ج) میباشد

خبرنگار ما از قندهار خبر میدهد که: محترم مولوی احسان الله احسان عضو شورای عالی تحریك اسلامی طالبان در مسجد خرقه، مبارك قندهار در حضور جمع غفیری از نمازگزاران نماز جمعه ضمن بیانیه، عالمانه، خویش گفتند. هدف تحریك اسلامی طالبان تنها و تنها پیاده ساختن احکام خداوند متعال بر زمین خدا (ج) میباشد و ما از هیچ قدرت وطاقت کفری به نصرت خداوند (ج) ترس و هراس نداریم و برای همیشه در مقابل باطل به جهاد خویش ادامه خواهیم داد

ص٤

د دلوی په (۳) مه نیټه د اسلام د خادم ملامحمدعمر (مجاهد) تر ریاست لاندی دعالی شوری غونډه جوړه شوه

له کندهار نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د سلواغی د میاشتی په (۳) مه نیټه د طالبانو داسلامی تحریك په ځانګړی میلمستون کښی د اسلام د خادم ملامحمدعمر (مجاهد) تر ریاست لاندی د طالبانو د اسلامی تحریك د عالی شوری غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه.

اوبیا د شوری د منشی له خوا د غونډی اجنډا واورول شوه.

خبریال ورزیاتوی چی په دی غونډه کښی په سیاسی، نظامی او اقتصادی مسایلو خبری وشوی او لازم تصمیمونه ونیول شول او د شوری د پریکړو سره سم اړونده مراجعوته هدایات ورکړای شول. دعالی شوری غونډه د ماښام تر ځنډه پوری [illegible] شاوخوا کښی پای ته ورسیده.

دپکتیا د دریم نمبر قول اردو په (۱۵) نمبر لواء کی دتانکستی کورس پای ته ورسید

له ګردیز نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د جدی په ۲۸ مه نیټه د خاصو مراسمو په ترڅ کښی د پکتیا د دریم نمبر [illegible] (٤مخ)

داسلام خادم ملامحمدعمر (مجاهد) دکابل دلومړی کرښې قوماندانان خپل حضورته ومنل

له کندهارنه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د سلواغی د میاشتی په (۳) مه نیټه د اسلام خادم ملامحمدعمر (مجاهد) دکابل د لومړی کرښی زړور قوماندانان ملا امیرمحمد (احمدی) مولوی صاحب ذبیح الله و ملا [illegible] الله احمد خپل حضور ته ومنل.

(٤ مخ)

ما راههای منتهی به شهر کابل را مسدود نکرده ایم

اداره، کابل راه ها را خود مسدود کرده است

(مولوی محمد معصوم افغانی)

محترم مولوی محمد معصوم افغانی سخنگوی تحریك اسلامی طالبان مقیم کویته در یك مصاحبه، تیلفونی گفتند: اداره، کابل از یك طرف اعلانهای آتش بس یکطرفه را سرداده است و از طرف دیگر خود را آماده، جنگهای تازه یی مینماید. محترم افغانی افزودند: اعلانهای آتش بس اداره، کابل فقط

(ص٤)

به سوال مینگوره کی دطالبان داسلامی تحریك په ملاتړ د سمت شمال طالبانو یوه ترینیتی غونډه:

دینی عالمان او طالبان په افغانستان کی یو اسلامی ځواك دی

«مولوی محمد صادق»

دافغانستان دطالبانو اسلامی تحریك کوم سمتی، نژادی یا ژبنی خوځښت نه دی

«مولوی نورمحمد «ثاقب»»

داسلامی خلافت دنفاذ دنده لوی خدای (جل جلاله) دپیغمبرانو (ع) په اوږو اچولی وه، او د پیغمبرانو وارثان حقانی دینی عالمان دی

سوات مینګوره (د شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د دلوی په خلورم، د سوات مینګوری د کالجو په سیمه کی د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك په ملاتړ او حمایت کی د سمت شمال طالبانو یوه ترینیتی غونډه د محترم مولوی صاحب قاری حبیب الله تر مشری لاندی جوړه کړی وه، په غونډه کی دافغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك په ملاتړ او حمایت کی وینا ګانی وشوی (٤مخ)

قوماندان حاجی بختیار خپله ټوله وسله د طالبانو اسلامی تحریك ته تسلیم کړه

د پکتیا ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان لمریز کال د سلواغی دمیاشتی په لومړنیو شیبوکی په لومړی ولایت کی حقیقی مجاهد حاجی بختیار ټول هغه مهمات چی د جهاد له مودی نه له ده سره پاتی وو د طالبانو اسلامی تحریك ته تسلیم کړل خبرګنای زیاتوی چی یادی مهماتو کی (٤مخ)

دهلمند والی مولوی محمدکریم اخند د اسلام د خادم مجاهد ملامحمد عمر اخند سره وکتل

٤مخ

دپکتیکا ولایت یو شمیر مسؤولینو د سرحدی سیمو دوره وکړه

د پکتیکا ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د سلواغی د میاشتی

(٤مخ)

محترم ملا یارمحمد آخند والی هرات با سفیر دنمارك ملاقات نمودند

خبرنگار ما از ولایت هرات خبر میدهد که: محترم الحاج ملا یارمحمد آخند والی هرات در مقر آن ولایت باسفیر دنمارك مقیم اسلام آباد ملاقات نمودند در این ملاقات طرفین در مورد همکاریهای دولت دنمارك با طرف افغانی تبادل نظر نمودند و سفیر دنمارك وعده سپرد که بیش از پیش با همکاریهای خود با افغانها ادامه خواهند داد. سفیر دنمارك در مورد آمده افغانهایکه در دنمارك بدون اسناد معتبر و قابل قبول طرف دنمارك زنده گی میکنند که به افغانستان باز گردند تحریك اسلامی طالبان ضمانت حفاظت اوشانرا مینماید؟

والی صاحب در جواب گفتند: که افغانستان خانه، مشترك

(ص٤)

سرمقاله

ایران و میانجی گری اش بین کابل و اسلام آباد

جمهوری اسلامی ایران با افغانستان نه تنها جوار و سرحد مشترك دارد بلکه مردم مسلمان هر دو کشور اسلامی به پیوند های مشترك عقیده و فرهنگ و روایات نیز باهم پیوسته اند، خوشی و غم هر دو شریك بوده است چنانکه در سالهای جهاد و هجرت با مردم ما همدردی و دستیاری های سیاسی و اخلاقی نموده است ولی نه آنچنانکه توقع و انتظار میرفت، زیرا که رویه، شان با مهاجرین (آوارگان) افغانی از اول غیر برادرانه و کمکهای اخلاقی حکومت ایران با ترجیحات بلامرجح- یا مع المرجح- مشوب بوده موارد مشخصی را در بر میگرفت که شکوك و شبهات وسوالها از آن بر میخاست.

پس از شکست روسها از وقتیکه در افغانستان قدرت را مجاهدین بدست گرفته است ثقل توجه شان برهمان سمت مورد نظر بوده حتی نشانه های تفرقه افگنی در آن بنظر میرسید.

وقتیکه اقتدار به اداره، فعلی کابل محول شد حکومت ایران مخالفین وی را بضدش بسیج و تقویه میکرد. ولی وقتیکه بنابرضرورت شرعی و ملی تحریك اسلامی طالبان برای این مقصد وارد میدان شد که امن و استقرار و نظام اسلامی را در سرزمین اسلامی شان پیاده سازد، رویه، ایران به یك بارگی برآشفته گردید و صحنه، فعالیت وی بطور حیران کن تغیر خورد، در پی تحریك اسلامی طالبان به دشمنی برخاست و برای تقویه، اداره، کابل- که یك وقت میخواست از بینش ببرد - همه تلاش های خود را به کار انداخت، وزیر خارجه، ایران در خارج و معاونش در داخل افغانستان سفر های متعددی را انجام داد.

(ص۲)

دروژی او اخترونو میاشتی لیدل او نه لیدل

۲مخ

د توبی، پرهیزګاری او عبادت میاشت

۲مخ

اسلام او دیموکراسی

۲مخ

د مسلمانی عقیده

۲مخ

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

(ص۳)

ستاسو لیکونه ځمونږ ځوابونه

(دریم مخ)

د ادب ملغلری

(دریم مخ)

دربانی دسولی وړاندیز که دنیرویستنی بل پړاو!

(دریم مخ)

زه د اسلام عسکر یم

دریم مخ

پاسخ خوانندگان به شریعت

ص۳

دا مو پټیلی ده چی خپلو خلکو ته به د لوی خدای (ج) په مرسته د شریعت روښانه لار ورپه ګوته کوو

«د اسلام د خادم ملامحمد عمر «مجاهد» له ویناوو څخه»

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك
دتاسیس کال : ۱۳۷۴ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنې لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون : ٤٢٦٤٥
آدرس : په پیښورکښی دطالبانوداسلامی تحریك نمایندگی
د یوی گڼی بیه : په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۲) کلداری

سرمقاله ...

تاهنوز فهم این معمی بر بسیاری از اذهان پوشیده و مبهم است، خصوصاً هنگامیکه تحریك اسلامی طالبان ولایت هرات را فتح کردند حکومت ایران با این تحریك به عداوت اشکار پرداخت و تا هنوز دوام میدهد.

شگفت انگیز تر اینست که اکنون میکوشد میان اداره‌ء کابل و حکومت پاکستان میانجیگری کند. این آغاز اگر به انجام میرسد یانه رسد ما دران بحث نمیکنیم، سوال اینجا است که چه انگیزه و باعث حکومت ایران را وادار ساخت که چنین اقدامی را آغاز کند؟

اگر برای برسر اقتدار نگهداشتن اداره‌ء فعلی کابل کوشش میکند این عمل به هیچ صورت بحساب برادری مردمان دوکشور در نمی آید و نه گامی بسوی خیر خواهی است زیرا منشأ و منبع همه مشکلات در افغانستان بر سر اقتدار بودن همین اداره‌ء ناتوان و بی کفایت است.

و اگر تمهیدی برای حل مشکل افغانستان باشد بایست نشانه های صدق و خلوص در آن واضح میبود و با تحریك اسلامی طالبان رویه‌ء دشمنانه را تغییر میداد و مفاهمه صورت میگرفت، در آن صورت ممکن بود که این اقدام گامی بسوی خیر خواهی و همدردی تلقی میگردید.

به هر حال! توقع و انتظار ما از حکومت و مردم برادر ایران و نیز تقاضای برادری و حسن جوار این است که از روی صدق و از دروازه‌ء برادری در بحران کشور عزیز ما داخل شده اقدامات خیرخواهانه و برادرانه را در پیش گیرد تا اثرات نیکوی آن برای قرن ها باقی بماند.

دمسلمانی عقیدی

پنځمه برخه

غازي خیل

انجیل شریف په عیسی علیه الصلاة و السلام باندی نازل شوی دی. عیسی علیه الصلواة والسلام د بنی اسرائیلو وروستی پیغمبیر دی چی بی له پلاره له پاکی بی بی مریمی څخه الله تعالی د معجزی لپاره پیدا کړی وو، اوس هم ژوندی په آسمانو کی اوسیږی چی قیامت نږدی شی را کوزیه شی او درسول الله صلی الله علیه وسلم امتی به وی.

فرقان د قرآن مجید نوم دی: قرآن مجید له الله تعالی نه د جبرئیل علیه السلام په خوله رسول الله صلی الله علیه و آله و سلم ته لږ لږ را استول شوی دی؛ دده د عمر په څلویښتم کال د رمضان د میاشتی په اوولسمه ثیته د حرا په غار کښی د سوره« اقراء» د سر په آیتونو پیل او د ده د عمر په دری شپیتم او دهجرت په یوولسم کال د ذوالحجی په نهمه (دعرفی په ورځ) د سورة مائدی شریفی هغه آخری آیت ورته راغی چی مضمون یی داسی دی:

نن می ستاسو لپاره ستاسو دین درته پشپړ او نعمت می درته پوره او اسلام می د دین گرزولو لپاره در خوښ کړ- په دغه حساب سره د قرآن مجید دنازلیدلو ټوله موده دوه ویشت کاله، دوه میاشتی او دوه ویشت ورځی شوی.

قرآن مجید ټولی پخوانی صحیفی او کتابونه منسوخ کړل د منسوخ معنی دانه ده چی هغه باطل شول بلکی د هغوی تفسیری او تشریعی حیثیت ختم کړای شو او تقدس یی پخپل حال پاتی دی، د هغو ټولو په ځای قرآن مجید ته د شرعی قانون عام حیثیت ورکړ شو، عام په دی معنی چی دځمکی په مخ د ټولو انسانانو او پیریانو لپاره او هم دټولو وختونو لپاره ترقیامته پوری مشرعی قانون، واجب العمل دی؛ پخوانی کتابونه او صحیفی به دځینو ملتونو لپاره او دځینو وختونو لپاره شرعی قانون گڼل کیدل.

د قرآن مجید د حفاظت او ساتنی ضمانت الله تعالی کړی دی نو ځکه هیڅ تغییر او تبدیل هیچا پکښی ونه کړای شو او نه به یی تر قیامته پوری څوك وکړای شی، دنورو کتابونو او صحیفو حال داسی نه دی نو ځکه اوس دهغوی نښه نشته؛ یهود د توراة شریف دعوی کوی او د بایبل یا تلمود په نوم کتاب هم لری خو له هغه توراة نه چی الله تعالی نازل کړی ؤ څه پکښی نشته، که وی ډیر لږ څه به وی.

همدارنگه نصرانیان د انجیل شریف دعوی کوی خو هغه څلور یا اووه انجیلونه چی له دوی سره دی الله تعالی پوهیږی چی له هغه اصلی انجیل شریف نه څه پکښی شته او که نشته.

همدارنگه زبور شریف او صحیفی.

ورسله:

داتوری هم د آمنتُ بالله له باء څخه لاندی دی ترکیب یی داسی راځی:

آمنتُ برُسُله: ایمان می راوړی (باور می کړی) دی د الله تعالی پرپیغامبرانو باندی علیهم الصلاة و السلام داسی باورچی د الله تعالی له لوری نه د بنی ادمانوله لومړی پیدایښت نه ترننه پوری او له ننه ایسته ترقیامته پوری د دوی ددنیا او آخرت د سمون لپاره د جبرئیل علیه السلام یا بل ملك په واسطه یوه لړی اصول او احکام را استول شوی دی او د الله تعالی هغه پیغام بیاد دغو پیغامبرانو علیهم الصلاة و السلام په واسطه انسانانوته او حتی پیریانوته رسول شوی دی، کله چی پیغامبران علیهم الصلاة و السلام په حضرت خاتم النبیین محمد رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) باندی ختم شوی دی نو د تبلیغ فریضه یی امت ته را نقل شوی ده- که چیرته د ځمکی په مخ یو داسی ټولگی نه وی چی هغه د الله تعالی رالیږلی پیغام (شریعت) د ځمکی د مخ ټولو بنیادموته ورسوی -لکه په پاکستان کی تبلیغی جماعت یا نور داسی-نو ټول مسلمانان به دالله تعالی په وړاندی سخت مسؤول وی.

پیغامبران علیهم الصلاة و السلام ټول انسانان وو- نه پیریان او نه ملائك- ټول نارینه وو- نه ښځینه - ټول له صغیری او کبیری گناه څخه پاك وو.

شعبربی په یوه روایت کی داسی راغلی دی: په تفسیر د رمنثور کی لیکلی شوی دی:چی حضرت ابوذرغفاری رضی الله تعالی عنه وایی: ما وویل: یا رسول الله! نبیان څومره دی؟ هغه وویل: یو لك او څلورویشت زره، ما وویل: یا رسول الله! څومره په دوی کښی رسولان دی؟ هغه وویل: دری سوه او دیارلس، دا لویه ډله ده، ده وویل یا اباذره!!

څلور پکښی د سریانی ژبی والادی: آدم او شیث او نوح او حنوخ، حنوخ د ادریس دی او لومړی کس دی چی په قلم یی لیکل کړی دی، او څلور د عربی ژبی والادی: هود، او صالح او شعیب او دستا پیغمبر، او لومړی پیغامبر له بنی اسرائیلو څخه موسی دی او اخری عیسی دی او اول د ټولو پیغامبرانو آدم دی او اخیری ستا پیغامبر دی. ابن حبان یی روایت کړی دی.

د رمنثور نور روایتونه هم را نقل کړی دی چی په هغو کښی د پیغامبرانو شمیر اته زره راغلی دی- الله تعالی خبر دی- خو زمونږ عقیده په یوه معین شمیر باندی نه دی ولاړه بلکی وایو: هغومره یادغومره، یا کم یا زیات- ددی لپاره چی دروغ رانه شی.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په ټولوکی بهتر او الله تعالی ته ډیر محبوب دی، د ده پیغامبری دزمانی په لحاظ هم عامه ده یعنی دده له بعثت نه تر قیامته پوری یوازی دده پیغام د انسانانو رسمی (مقرر شوی) دین دی که هر څوك بله دعوی کوی هغه کافر دی.

او دمکان په لحاظ هم عامه ده چی د ځمکی د مخ ټول انسانان ان تردی چی پیریان هم دده په شریعت باندی دعمل کولو شرعی مکلفیت لری.

یادونه: د رسول او نبی تر منځ فرق دادی چی : نبی هر یوه پیغامبرته ویل کیږی او رسول یوازی هغه پیغمبرته ویل کیږی چی : الله تعالی د مستقل شریعت په تبلیغ مامور کړی وی، یا یی د پخوانی شریعت په تبلیغ سره په ځانگړی توگه مامور کړی وی.

د سیکولیریزم خطرته پام کوی!

اسلام او دیموکراسی

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

څلورمه برخه

خو اسلام اکثریت (Majority) د حق معیار نه بولی، او د حق معیار یواځی علم عقل او تقوي ټاکی.

۱- لوی خدا جل جلاله فرمایی:«آیا څوك چی پوهیږی له هغه چا سره برابر دی چی نه پوهیږی؟ الزمر/۹»

۲- او په بل ځای کی الله تعالی فرمایی:«د هغو کسانو د ارزوگانو پیروی مه کوه چی نه پوهیږی. الجاثیة/۱۸»

له مبارك آیت څخه څرگندیږی چی بی علمه او ناپوهه کسان چی فیصله کوی هغه په نفسي ارزوگانو او شخصی خواهشاتو باندی ولاړه وی، د هغی په شاکی د واقعیت او حقیقت محرکه قوه موجوده نه وی. هغوی د ټولنی ښیگڼی او دخپل رب خوښی او رضایت په نظر کښ نه لری.

قرآن کریم چی د لوی خدای جل جلاله روښتنی کتاب دی، د انسانانو د عبرت په خاطر د کفر او فساد په مقابل کی د تیرو پیغمبرانو علیهم السلام د جهاد او مبارزی داستانونه په ښه تفصیل سره بیانوی، هلته هم کفری طاقتونو د ډیموکراسی د کاذبو اصولو له مخی کوشش کاوه چی د شیطان ډله زیاته کړی او په حق باندی بری مومی، خو حق به د تل دپاره له یو شمیر بی وزله ولی ایمانداړو او با اخلاقه انسانانو سره ؤ او اکثریت به د مفسدینو، مستکبرینو، قارون صفته هامان صفته انسانانو سره وو. له همدی امله دی چی قرآن کریم اته اویا ځایه د اکثر کلمه د فاسقانو، کافرانو، دروغجنانو او بدکارانو د پاره استعمال کړی ده. او څلور اویا ځله یی د کثیر کلمه د همدا شانی خلکو له پاره په کار اچولی ده.

۳- لوی خدای جل جلاله فرمایی:« بی شکه چی د خلکو اکثریت فاسقان دی. المائدة/۴۹»

۴- په بل ځای کی فرمایی:«د خلکو اکثریت ایمان نه راوړی. هود/۱۷»

۵- په بل ځای کی فرمایی:« ددوی اکثریت کافران دی. النحل/۸۳»

۶- په بل ځای کی فرمایی:«ای نبی(ص) که هرڅومره ته وغواړی کثر ددوی ایمان نه راوړی. یوسف/۱۰۳»

۷- په بل ځای کی فرمایی:«ددوی اکثر په الله باندی ایمان نه راوړی مگر څو مشرکین وی. یوسف/۱۰۶»

د قرآن کریم له مطالعی څخه په آسانی سره دغه خبره جوته کیږی چی د غربی جمهوریت او ډیموکراسی د کاذبو اصولو برعکس د لوی خدا جل جلا له فرمان دا دی چی د خلکو اکثریت جاهلان، بدکاران، فاسقان، کافران، منافقان او مشرکان تشکیلوی. چی دا ډول خلك اسلام هیڅکله په حقه نه بولی او ددوی په خلاف یی د بشریت د تاریخ له لومړی روځی څخه خپله مبارزه پیل کړی ده. خو د ډیموکراسی د پیروانو منطق دا دی چی نه ، اکثریت حق دی که څه هم جاهلان ، فاسقان، بدکاران او بدمعاشان وی. او دا ډول منطق ته الله تعالی د جاهلیت منطق وایی او حکومت یی هم د جاهلیت حکومت بولي.

۸- الله پاك فرمایی:«آیا دوی د جاهلیت حکم او فیصله غواړی، له الله تعالی نه څوك ښه حکم کوونکی دی؟ د هغه قوم د پاره چی یقین او باور لری. مائدة/ »

البته اسلام په ورځنیو معاصرو ملی او دولتي مسائلو کی د هغه اکثریت رایه چی دکوم شرعی حکم په خلاف نه وی او رایه ورکوونکی او رایه اخستونکی اسلامی مواصفات ولری، نه یواځی خیر او برکت بولی بلکی د الله رسول صلی الله علیه وسلم د ډول اکثریت ضروری او په حقه باندی بولی او فرمایی:

۹- «د الله نصرت او تائید له جماعت(اکثریت) سره دی.»

۱۰- رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته د [illegible] په اړوند فرمایی:« که تاسی دواړه په یوه مشوره باندی سره متفق شوی وای، ما به د [illegible] مخالفت نه وو کړی. احمد روایت کړی دی. [illegible]»

۱۱- حضرت عبد [illegible] رضی الله عنه وایی «څه چی مسلمان [illegible] هغه د الله په نزد [illegible] هم ښه وی.»

۱۲- لوی خدا جل جلاله فرمایی:«له دوی سره په کارونو کی مشوره کوه، کله چی د عزم وکړ نو په الله باندی توکل او بروسه وکړه. آل عمران/۱۵۹»

له حضرت علی رضی الله عنه څخه چا دعزم کولو دمطلب پوښتنه وکړه چی څه ته وایی؟ دی مبارك فرمایی:«مشاورة اهل الرأی ثم اتباعهم. (ابن کثیر ص ۱۴۳ ج۲)»

عزم د رأی د خاوندانو سره شوری ته ویل کیږی، او بیا په هغه مشوره باندی عمل کول دی. (ابن کثیر)

لنډه دا چی که اسلامی دولت د مسلمان کاندید او رایه ورکوونکو اشخاصو ټول هغه مواصفات چی د اسلامی شریعت په کتابونو کي ورته ټاکل شوی دی لازمی کړی او په هغو باندي جدی عمل وکړی، او بیا د لویی جرگی، ولسی جرگی یا د عقد و حل د شوري انتخابات د اکثریت په بنیاد منعقد شی، دا ډول اکثریت د اسلامی امت دپاره رحمت دی او هغه ته سواد اعظم وایی چی پیروی یی لازمه ده. ددی په نتیجه کی چی کوم جمهور رئیس وټاکل شی، اجرائیه او مقننه جوړه شی هغه به ټول اسلامی وی، چی په نتیجه کی به یو مضبوط او متحد اسلامی حکومت وی چی د ښه او مؤمن اکثریت په نتیجه کی مینځ ته راغلی وی.

له پورتنی تفصیل څخه به لوستونکی ته ښه څرگنده شوی وی چی اسلام او ډیموکراسی د اکثریت او اقلیت په اړوند یو بل سره اساسی اختلاف لري. د ډیموکراسي د اکثریتی اصل له مخی به حتماً یو غیر اسلامی کمزوری سیکولر حکومت مینځ ته راځی. او د اسلامی اکثریت په نتیجه کی به ضرور یو مضبوط متحد اسلامی حکومت جوړیږی چی هدف یی د اسلامی شریعت تطبیق او د عامو خلکو رفاه او خوشحالی وی.

(نور بیا)

دتوبی، پرهیزگاری اوعبادت میاشت

ابو عبدالعلیم

لوی خدای(جل جلاله) په کال کی یو میاشت روژه نیول په مسلمانانوباندی فرض کړی ده، چی په قرآن کریم کی فرمایی: (ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مومنانو) په تاسو باندی روژه فرض شوی، لکه څنگه چی له تاسونه په مخکی خلکو باندی فرض شوی وه) (بقره: ۱۸۳) په روژه کی انسان له خوراك، څښاك او جماع (جنسی عمل) څخه د سهار له سپیده داغ نه تر مابنامه پوری ایسار وی، او هم دهر بد عمل د ځان ژغورلو زیار باسی خو انسان وکولای شی د خپل بشپړه صبر او زغم په وسیله ځان د نفسانی او حیوانی غریزو له تسلط څخه ازاد کړی، او دلوی خدای (جل جلاله) اطاعت او رښتینی عبادت ته یی مخ شی چی انسان د روح او مطمئنه نفس غوښتنه او آرزودی. په روژه کی مسلمانان د خپل ځان په تزکیه او پاکولو سره له مادی لذتونو او خوندونو څخه د ځان ساتنی په عمل د حیوانی غریزو په خلاف د روحانی او معنوی ارتقاء د پاره له نفس او شیطان سره مجادله او مبارزه کوی، د دنیوی نعمتونو په ځای د اخروی جنتونو د ترلاسه کولو دپاره مسلسل ریاضت او عبادت کوی او دلوی خدای (جل جلاله) د رضا او خوښی په خاطر د ورځی په مخ له ټولو مادی لذتونو: خوراك، څښاك او جنسی عمل څخه پرهیز او اجتناب کوی، دالله له مخلوق سره هراړخیزی مرستی کوی، خپله خوشحالی اونیکمرغی د نورو په خوشحالی اونیکمرغی کی لټوی.

دروژی د نیکمرغی او مبارکی میاشتی د فضیلت او بهتری په هکله د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی: «دا داسی میاشت ده چی لومړی برخه یی د الله تعالی رحمت دی، منځنی برخه یی د الله تعالی مغفرت او بښنه ده او وروستنی برخه یی له اور څخه خلاصون او آزادی ده. څوك چی په دی میاشت کی د خپل مملوك یا نورو ترلاس لاندی انسانانو مشکل کم کړی، الله(جل جلاله) به هغه ته بښنه وکړی او له اور څخه به یی وژغوری په دی کی څلور کارونه باید په کثرت سره وشی. چی په هغه کی دوه کارونه د الله تعالی د رضا او خوښی د پاره دی، او دوه نور یی داسی شیان دی چی له هغونه تاسی بی پرواکیدی نشی. هغه دوه کارونه چی خپل رب په وریاندی راضی کړی دشهادت کلمه (گواهی ورکول چی له الله تعالی نه پرته هیڅوك د عبادت وړ نه دی)، او استغفار زیات ویل دی. او هغه دوه شیان چی دتاسو ورڅخه چاره نشته، هغه د جنت غوښتنه ده او له اور (دوزخ) څخه پناه غوښتل دی. او څوك چی یوه روژه لرونکی ته اوبه وروڅښی، لوی خدای(جل جلاله) به (په قیامت کی) څماله حوض څخه ده ته داسی اوبه وروڅښی چی جنت ته ترننوتلو به هیڅ تږی نشی. (دغه حدیث ابن خزیمه، بیهقی او ابن حبان روایت کړی ده)

دروژی مبارکه میاشت د مسلمانانو دپاره د رحمت او برکت میاشت ده، دتقوی او پاکی میاشت ده، له هر ډول بدکاریو څخه د پهیز او اجتناب کولو میاشت ده. په دغه میاشت کی مسلمانان خپل رب ته رجوع کوی او دخپلو گناهونو او معصیتونو بښنه غواړی. له لوی خدای(جل جلاله) سره ژمنه کوی چی نور به دده له حکمونو څخه سرغړونه نه کوی، د الله تعالی په مخلوق باندی به ظلم او تیری نه کوی، په راکټونو اوگبارونویه دبیگناه انسانانو کورونه نه ورانوی، د خپلو رونو وینی به نه تویوی او هغوی به نه شهیدان کوی په پاټکونو کی به دخلکو مالونه او جیبونه نه لوټوی.

د روژی په مبارکه میاشت کی مسلمان باید د توحید کلمه دځان ورد وگرځوی، د نفس، شیطان او طاغوت د عبادت په ځای، یواځی دالله(جل جلاله) له عبادت او لمانځنه وکړی، هسی نه چی په خوله باندی یی پاکه کلمه وی؛ (چی د الله نه پرته هیڅوك د عبادت وړنه دی)، او په عمل کی د نفس او هوا په عبادت باندی مصروف وی.

دخلکو مالونه په ناروا باندی خوری، د قدرت د ساتلو او قدرت ته د رسیدلو په خاطر له پاکو مسلمانانو سره ناروا جگړی کوی، د هغو په خلاف یواځی ددی دپاره تبلیغات او پروپاگنډی کوی چی دده له ډلی سره اړیکی نه لری، د هغوی هر نیك عمل خلکوته بد معرفی کوی. د توحید د کلمی په کثرت سره دلوستلو نه د الله(ج) د رسول صلی الله علیه وسلم هدف دادی چی مسلمان باید د شیطان او طاغوت د عبادت او لمانځنی په ځای چی شهواتو او لذاتو ته یی هڅوی، دلوی خدای(جل جلاله) له عبادت او اطاعت وکړی، د هغه شریعت په ځان تطبیق او نوروته یی ورووسیی؛ وشخصی گټو په ځای د مسلمانانو اجتماعی گټوته ترجیح ورکړی، چی دده دگوند او قوم ټولو عزت او لوړتیا دمسلمانانو په اجتماعی لوړتیا او عزت کی ده. او د مسلمانانو اجتماعی ژوند او بقا په اسلامی نظام کی موجوده ده چی ټول مخلص مسلمانان باید په گډه ددغه ستر بار دپورته کولو دپاره په اخلاص سره اوږی ورکړی. څو الله (جل جلاله) را څخه خوشحاله شی.

په دغه مبارکه میاشت کی مسلمانان باید ددغه مادی او دنیوی بی ارزښته نعمتونو په ځای له لوی خدای(جل جلاله) څخه د ابدی جنت او دهغه د نعمتونو غوښتنه وکړی او له اور او دوزخ څخه یی د نجات دعاگانی وکړی. بر سیره په دی هر مسلمان باید د خپل مالی وس او توان سره سم د غریبانو او بی وزلو سره مرسته وکړی، او د روژه لرونکو دافطار او نورو خوراکی اړتیاوو د پوره کولو دپاره مخلصانه همدردی او همکاری وکړی، چی په دغه میاشت کی یی الله تعالی بدله په لسگونو او سلگونو ورکوی، او په [illegible] توگه ځانته د هغی بلی نړی (اخرت) پانگه ټیاته کړی او هلته ښه آرام او سوکاله ژوند ولری چی هغه ژوند واقعی اونه فنا کیدونکی ژوند دی. الله تعالی دی ځمونږ ټولو برخه کړی.

آمین یا رب العلمین.

دروژی او اخترونو د میاشتی لیدل او نه لیدل

ابو عطاء

ډیری پیری کیږی چی د روژی او اخترونو د میاشتی لیدلو او نه لیدلو له امله د مسلمانانو ترمنځ ان چی د علماء کرامو تر منځ، اختلاف او ناندری روانی دی او کله کله خبره خوابدی ته هم رسیږی یو لور وایی: د شعبان اخیر دی، بل لوری وایی: د رمضان لومړی روژه ده، یو لوری وایی: د رمضان اخیره روژه ده بل وایی د وړوکی اختر ورځ ده، یو لوری وایی نن د عرفی ورځ ده بل لوری وایی نن دلوی اختر ورځ ده، پرون عرفه وه، یو لوری وایی دسعودی رادیودا اختر اعلان وکړ، بل لوری وایی دهغی رادیو اعلان اعتبارنه لری...؟

خبره له هغه ځایه راپیل کیږی چی په حدیث مبارك کی راغلی دی: «روژه ونیسی له لیدلو د میاشتی او افطار (اختر) وکړی له لیدلو دمیاشتی [illegible] که د روژی میاشت په وریځ یا دود او غبار کی درنه ورکه شوه نو بیا د شعبان دیرش ورځی پوره کړی» دا حدیث مبارك ټولو مذهبونو منلی دی او اعتبار ورکوی.

بیا خبره دی ځای ته راځی چی ایا هر یو مکلف بنده به میاشت پخپله وینی بیا به روژه نیسی او یابه اختر کوی او که دبل په لیدلو سره هم وریاندی لازمیږی؟

په دغه خبره هم د مذهبونو اتفاق دی چی دبل په لیدلو سره لازمیږی او خپل لیدل شرط نه دی، خو په لیدونکی کښی د عدد او عدالت په هکله اختلاف شته دی.

بیا خبره دی ځای ته راځی چی د بل مملکت په لیدلو سره دوغه مملکت په خلکو لازمیږی که نه؟

په دی خبره کی هم د مذهبونو اختلاف شته دی.

دلته به دنورو مذهبونو خبره پریږدو، یوازی د حنفی فقهی خبره به یوڅه راواخلو.

۱- چی افق (د آسمان لمن) صافه وی، وریځ یا دود یا غبار [illegible] وی نو د روژی او اخترونو د میاشتی لیدلو لپاره ضروری ده چه لیدونکی به لویه ډله وی دومره لویه ډله چی د «مسلمانانو امام یا قاضی یی لویه ډله وگڼی - ټاکلی شمیرنه لری - نو هلته به یی په خبره باور کیږی.

۲- چی مطلع (دآسمان لمن) صافه نه وی، وریځ یا دود یا غبار نیولی وی نو بیا د اخترونو د میاشتی لپاره ضروری ده چی لږ تر لږه دوه عادل سړی یا یو عادل سړی او دوه عادلي ښځی به د «اشهد» په ویلو سره د امام (سلطان) یا قاضی په مخ کی گواهی ادا کړی چی میاشت مو ولیدله، عادل والی یې دادی چی: له لویو (کبیره) گناهونو څخه په پرهیز او توبه گاروی او په وړوکی (صغیره) گناه پوری به کلك نښتی نه وی او د میرانی - مروت - خلاف کارونه به هم نه کوی.

د رمضان د میاشتی لپاره د وریځی، دود یا غبار په ورځ یو عادل سړی یا یوه عادله ښځه هم کافی ده چی د میاشتی لیدلو خبره وکړی که «اشهد» نه هم وایی هم منظوره ده.

کله چی په پورتنی تفصیل سره د میاشتی لیدل ثابت شی که دوغه مملکت خلك دتوپونو د فیر په اواز سره یا دنغارو غږولو په آواز سره یا دغرونو په سرونویاندی د اورونو په بلولوسره خبرشی نو روژه یا افطار ور باندی لازم دی. — رادیو که خبرواچد ونه گڼله شی نو دلیکونکی په نظر سره د نغاری دآوازحکم ورکول کیدای شی.

اوس خبره دی ته راځی چی دبل مملکت په لیدلو سره دوغه مملکت په خلکو باندی روژه او اختر لازمیږی که نه؟

زمونږ په مذهب کی (ظاهرالروایة) دادی چی هرا لازمیږی، خو په دی شرط سره چی: له هغه مملکت څخه خبره په موجبه (واجبه وونکی) طریقه سره راورسیږی.

واجبه وونکی (موجبه) طریقه دادی چی: له هغه مملکت نه بیلی بیلی ډلی خلك راځی او هره ډله داخبره کوی چی هلته د روژی یا اختر میاشت په فلانی ورځ لیدلی شوی وه او عمل وریاندی پیل شوی — دی خبری ته استفاضه یا خبر مستفیض ویل کیږی-

بل موجبه طریقه داده چی له هغه مملکت نه دوه یا زیات عادل کسان راشی او دلته د امام یا قاضی په مخکښی په اشهدُ سره گواهی ورکړی او ووایی چی موږ هلته حاضروو چی هلته د گواهی په شرطونو برابر گواهانو د امام یا قاضی په مخکښی د میاشتی دلیدلو گواهی ادا کړه او امام یاقاضی ومنله او دمیاشتی د ثبوت حکم یی وکړ اویه دغه حکم عمل پیل شو.

نن سبا د سعودی حکومت د میاشتی لیدلو لپاره په زړه پوری اهتمام کوی، د میاشتی د لیدلو حکم د شاهی فرمان په ذریعه په رادیوکی اعلانوی او اکثره اسلامی مملکتونه په هغه اعلان سره روژه نیسی او هم اختر کوی مگر په افغانستان، پاکستان او هندوستان او ځنی نورو اسلامی هیوادونوکی چی حنفی فقه عملی ده اکثره علماء د سعودی د رادیو په اعلان سره نه د فرضی روژی حکم ورکوی او نه د وړوکی اختر او نه د لوی اختر د قربانی حکم ورکوی.

یو خوله دی امله چی دبل مملکت د رادیو اعلان (طریق موجب) له فقهی منل شوی قاعدی څخه نه لاندی کیږی او بل له دی امله چی په سعودی کی حنبلی مذهب رواج دی دهغوی په مذهب کی چی مطلع صافه هم وی دوه کسه گواهان کافی بولی او دا خبره د حنفی فقهی له بلی منلی شوی قاعدی څخه مخالف ده هغه داده چی مطلع صافه وی نو لیدونکی ډله به وجمع عظیمه وی نو ځکه دا اختلاف د تل لپاره په منځ کی پروت دی.

د حل لاره داده چی که کوم اسلامی حکومت د غواړی په دغه شرعی مهم کارکی اهتمام وکړی او لږ پیسی مصرف کړی نو کولی شی څوتنه عادل کسان د رمضان او اخترونو د میاشتی له راپیره کیدلو نه مخکی سعودی یا کوم بل اسلامی هیواد ته- چی مطلع یی د میاشتی لیدلو لپاره ښه مساعده وی- ولیږی هغوی به هلته یا په خپلو سترگو میاشت ووینی او بیابه دلته راورسول شی او گواهی به ادا کړی، او یا به د هغه مملکت دگواهانو د گواهی مجلس ته ورحاضر شی، هلته چی گواهان گواهی ادا کړی او ومنله شی نو دغه کسان به له دی معلوماتو سره (چی هلته مطلع صافه وه او که نه؟ د گواهانو شمیر څومره وؤ) په همدغه شپه د الوتکی په ذریعه بیرته خپل مملکت ته راورسول شی او هلته به دلوی امام یا قاضی په مخکښی خپله گواهی ادا کړی، یا به دهغو گواهانو گواهی له شرعی قاعدی سره سمه ادا کړی- کله چی امام یا قاضی حکم وریاندی وکړی نو دغه حکومت به خپل خلك د توپونو د فیر په آواز سره خبر کړی او روژه یا افطار یا قربانی به په یو اتفاق سره وی، ناندری به ختمی شی انشاء الله‌تعالی.

زر زر

ملا اسدالله وحنیفي،

زمانه لکه آسیا ګرځی ګردون زر زر
ناپوهان تری خالی لاس کوی بون زر زر
د بلبل په خونه ګډی زلزلی شی
د خزان سلی پری کاندی شبخون زر زر
نن بهار سبا خزان وریسی راشی
داسی دروی عاشقان ځیګر خون زر زر
د دنیا په مال متاع بروسه مه کړه
نن به نیرشی ځکه تیر شو پرون زر زر
د تقوی په سمندر کښی ځان غوپه کړه
پس له مرګه راروان دی ژوندون زر زر
ځان دحق په بنګومست کړه چی عارف شی
د دنیا قافلی ځی سرنګون زر زر
حنیفی بیا به ارمان کړی وخت به تیروی
د عقبی به خوابه دروی پرخون زر زر

د ادب ملغلری

(خوشحال خټک)

بیهوده په ځان غره دی دا انسان
په ساړه په عارمه جینګه خوله حیران
لیونی ملال دلګیر دخوب په وړل کښی
نه دلوږی نه دتندی لری توان
په یوه زره خبره خوارخسته شی
په یوه زره نږ خوړی شی دګان
په داسی رنګ څو کبر څو لوبي کا
چی نظر یی له خودی وی په آسمان
واړه عمر تیروی په داغفلت کښی
نرهغه پوری چی ومری په داشان
په ژوندون چی د خپل ځان فکرونه کړی
پس له مرګه به هغه کاوېر ارمان
هغه شعر د هر لوری ته ډیر دی
خوشحال څهن پکار دی عارفان

ګلمی ته خطاب

واحمد شاه وحدت،

د بل د پاره مشال جوړ شه د ډیوی نری کړه
د همت توره کړه راپورته احیمینی لری کړه
د فریبونو له ګرداب نه ځان راوباسه نور
د اخرت غم وکړه نوری ارادی لری کړه
د بل چا مه کوه پیښی یوه څونه جوړه شه
خپله سرکښ شه رواښره غوټی ورکی کړه
چی راروان نسل په تا بیا آفرین ووایی
پاڅه بیدار شه دا مرموزی خطری لری کړه
بشو سره مل شه د خرابونه امان وغواړه
د شیطان ماوره له زړه نوری تلوسی لری کړه
پند دی که واخست نو سرخ روی د دواړو کونو بشی
تقوی کړه خپل ځان ته جامه نوری جامی لری کړه
که د «وحدت» اوری را پاڅه او توکل پری وکړه
اسره د خدای درته کافی نوری اسری لری کړه

زه د اسلام عسکر یم

«حق پرست»

زه هیس د بوتي د بیخه نه یم را شین شوي، ما په جهاد کښی له اول څخه تر اوسه پوري برخه اخستی ده. ما په دی لاره کښی لوږی، تندی ګاللی او د اسلامی حکومت د پلی کولو د پاره می شهیدان ورکړی دی. دا چه د اسلام دښمنان وایی چه دا یوه پاندنی استعماری دسیسه ده دوی نوبك له کومه زده کړ، دوی له جوماتَ څخه راولاړ شوي او داسی نور–

دا خبری کې مې د خلقیانو خبرو ته ورته دی چه د جهاد چه پیل کښی یی د دینی عنصر [illegible] پوری کولی. زه په جومات ویاړ کوم [illegible] پوری به د خدای د رسول په [illegible] د لوی خدای د دین [illegible] د اسلام [illegible] تو ته چه د اسلام د پلی کولو [illegible]

ولی داسی وایی؟ نه ما بیه پیژنی چه زه څوك یم او زما قهرمانی دی هم لیدلی دی.

هوا ما نه غوښتل چه قیادت په لاس کښی واخلم دا یو دروند مسئولیت ؤ او دا یو لوی پیټی.

زه په جهاد کښی لکه یوعسکر داسی ولاړ وم او د خدای د پاره می مبارزه کوله. مګر ته د قدرت لیونی وی عالمونه دی په وینو ولړل او بیګناه مسلمانان دی په هغه او دغه بهانه ووژل.

ما تا ته کتل، ستا اعمالوته، ستا کردار او ستا اسلامی احساس ته.

کله چه پوه شوم چه لیونتوبدي اخری درجی ته ورسید او غوښتل دی چه د اسلام په نوم هم بد کړی او خلك نور هم [illegible] اوړه اوړه کړی. ما د مخدری [illegible] میدان ته [illegible] دردیدلی ملت می [illegible] پرته له مقدومته می د [illegible] ترلاسه کړه، تا چه د حال ولید د رخصت شوی په قدرت دی ووبریدی او ودی ویل چه : دا انګریزان دی، دوی اسلامی حکومت نه غواړی. دوی د فلانی او فلانی هیواد ګوډاګیان دی او فلانی نظام راوستل غواړی. زه حیران شوم ستا دی ډول سپکو سپورو ته چه ان په خپلو مطبوعاتی وسائلو کی دی هم دا خپروی وکړی. بیا زه ستا یوه د سنګر [illegible] مبارز ته ورغلم او دا نورونه می درسره مطرح کړل. هغه چی با ایمانه [illegible] ویل ددا هغه خبری دی چه پخوا به تره کی، امین، ببرك او نجیب په موږ پسی کولی نو که اوس دا طالبان خدای مکړه انګزان وی موږ هم څو کاله د [illegible] ګرځولی [illegible]

[illegible] نو چه زه دی په سلونومونو یاد کړم د یوه مسلمان سره خو دا ډول پروپاګنډ نه [illegible] او بیا د یوه اسلامی مبارز سره؟! عجبه خو داده چه اوس وایی چه زه ورسره یوځای کیږم خو دوی نه راسره یو ځای کیږی. [illegible] چه دوی د صلحی طرحه نه منی او موږ خبرو ته چمتو یو یا دا چه ګو عملیات ورسره کوم خو دوی مخی ته [illegible] اچوی.

نو زه درته وایم چه نه ولی داسی سست عنصر یی! ضد او نقیض خبری کوی

څوك خو دانګریزانو او ګوډاګیانو سره نه یو ځای کیږی او که یوځای کیږی نو ستا عقیده خو زموږ په باب بدله ده نو ته څنګه اسلامی حکومت جوړوی.

خیرا ستا خبره ښکاره او نوره هم ښکاره شوه، دا ملت نور نه غولیږی. هغه د شاعر خبره:

زه پښی سترګی نه یم په هرڅه اوس پوهیږم

په خلاصو سترګو باندی ما جهان لیدلی دی

هو. موږ به هیڅکله و نه غولیږو او د اسلام په سیعه لاره به روان یو ترڅو په هیواد کښی اسلامی حکومت پلی کړو که خدای اخو حلالته، کول.

د مسلمانو کوریی

(توخی)

افغانه ته د مسلمانو کور ئی
ددین پرورو لښکریانو کورئی

ته د مسلمو او زمرو وطن ئی
افغانه ته د ننګیالو وطن ئی
ته د شریفو بنده ګانو کور ئی

افغانه ته د مسلمانو کورئی
د دین پرورو لشکریانو کورئی

د شهیدانو او غازیانو کورئی
ته د زخمیانو او ګوډانو کور ئی
ته د جیدو عالمانو کور ئی

افغانه ته د مسلمانو کور ئی
د دین پرورو لشکریانو کورئی

افغانه تاکښی‌به ځوانان اوسیږی
مجاهدین قهرمانان اوسیږی
ته د مسلمو افغانانو کورئی

افغانه ته د مسلمانو کور ئی
د دین پرورو لشکریانو کورئی

افغانه ته د آسیا زړګئ ئی
د غزنوی او احمدشاه زړګئ ئی
په وینو سرو د شهیدانو کورئی

افغانه ته د مسلمانو کور ئی
د دین پرورو لشکریانو کورئی

موږه له تانه انګریزان شړلی
هم مو روسی کمونیستان شړلی
ته د(توخی)دهم فکرانو کورئی

افغانه ته د مسلمانو کور ئی
ددین پرورو لشکریانو کورئی

دربانی دسولی وړاندیز که د تیرویستنی بل پړاو!

فضل رحمان

